له اوو بربادوونکو ګناهونو څخه ځان وساتئ

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «له اوو بربادوونکو ګناهونو څخه ځان وساتئ» هغوی وويل: اې د الله رسوله، هغه کوم دي؟ ويې فرمايل: «په الله - تعالی - شرک کول، سحر، د هغه نفس وژل چې الله يې په ناحقه وژل حرام کړي دي، سود خوړل، د يتيم مال خوړل، د جنګ په ورځ له مېدان څخه تېښته کول، او په ساده، پاک لمنو مؤمنو ښځو د - زنا - تور پورې کول».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل امت ته له اوو جرمونو او تباه کوونکو ګناهونو څخه په ځان ژغورلو امر کوي، او کله چې ترې پوښتنه وشوه چې هغه کوم دي؟ نو هغه يې په ګوته کوي چې: لومړی: له الله تعالی سره شرک کول، داسې چې له هغه پاک ذات سره مثل ونيول شي، په هره بڼه چې وي، او يا له عبادتونو څخه د هر ډول عبادت له الله تعالی پرته بل چا ته وشي، او په شرک يې پيل ځکه وکړ چې تر ټولو لويه ګناه ده. دويم: جادو دی - چې هغه له غوټو، دمونو، درملو او لوګيو څخه عبارت دی - چې د جادو کړی شوي انسان په بدن کې د هغه په وژلو او يا ناروغولو اغېزه کوي او يا د ښځې او خاوند تر منځ جلاوالی راولي، او دا يو شيطاني عمل دی، او ډيرى يې داسې دي چې پايلي ته نه رسيږي مګر په الله تعالی باندې په شرک کولو او يا پليتو ارواحو ته په هغه څه سره په نزدې کېدولو چې هغوی يې خوښوي. دريم: د هغه نفس وژل چې الله تعالی يې وژل حرام کړي دي پرته له دې چې د حاکم له خوا په مشروع جواز سره پلي شي. څلورم: د سود خوړل او يا د نورو وسيلو په استعمالولو سره له سود څخه ګټه اخيستل. پنځم: د هغه نابالغ په مال کې خيانت کول چې پلار يې بلوغ ته له رسېدو مخکې مړ شوی وي. شپږم: د کافرانو سره له جګړې څخه تېښته. اووم: په آزادو او پاکو ښځو باندې د زنا تور لګول او همدارنګه د نارينه و تورنول.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3331